کابل ناتهـ

شماره ٦٨ سال چهارم حوت ١٣٨٦ خورشیدی هشتم مارچ ٢٠٠٨ میلادی

# ښځه د اقتصادي ښکیلاک په منګلو کي

لیکوال: حبیب الله غمخور





تر هرڅه وړاندي دښځې ستر ،پاک او سپېڅلی مقام ته د درناوی او احترام سر په ټیټه ولو سره دښځو دنړیوال پیوستون د نیکمرغي ورځي په مناسبت په ګران افغانستان اوله هغه نه بهرټولو افغانی میندو او خویندو ته دمباره کیو او نیکو هیلو په څرګندولو سره هیله مند یم چي ډیر ژر زموږ کړېدلي او ازورېدلي میندي او خویندي له دغو خواریو او ربړونو څخه خلاصي ،دعفت او انسانیت په فضاکي خپل انسانی ژوندته دوام ورکړی ،سالم اولادونه وروزی او دټولني په سیاسي فرهنګی او ټولنیز ژوند کي د اجتماعی عدالت پر بنیاد برابره اوګډه برخه واخلي.

په بشری ټولنه کې هر هغه څه چي دانسان پر ژوند تاثیر ښندی اویادهغه سره په شکل داشکالو تړاو لري مهم دي او هریو خپل ځاي او رول لري ،خو اقتصاد اوپوهه دانسانانو په ژوندکي ټاکونکی او حیاتي ارزښت لري.

دبېلګې په توګه په هغه ټولنه کي چې دوګړو دژوند سطحه یې له اقتصاي پلوه اوچته او پر مخ تللې وي اوله بلي خوا یې اکثریت وګړي دسواد اوپوهی دنعمت نه برخمن وي نو هلته خلک بسیا او مرفع ژوند لري اودزیات شمیر آزادیو او اجتماعي عدالت له نعمتونه برخمن وي..

پوهه او اقتصاد سره تړلي اویو دبل لازم او ملزوم دي ،یوه ټولنه هغه وخت داقتصادي پر مختګ پر لوردرومي کله چې یې ولس دپوهي اومعرفت سره علاقه ولري اوا پد ي ګاڼه ځان سمبال کړی. که څه هم پوهه دتجربې محصول ده خوهمدا پوهه ده چي دنورو تجر بیولاره پرانیزي ،دپوهی په برکت دیوې ټولنی خلک ځانونه داقتصادي استثمار او ټولنیزو بې عدالتیو څخه خلاصولاي سي.

په هغو ټولنو کې چې دپوهی او معرفت ځاي جحالت نیولی ویخلک یې شاته پاته ژوند لری اوتل دبل ترسیاسی او اقتصادي سلطې لاندي ژوند کوی.

انسانانو دبشري ټولنو دتکامل مختلفي مرحلې شاته پرې ایښي دي ،دانسان پوسیله پر انسان دظلم او دهغه له قوت ،انرژی اواستعدادنه دبل چا لخوادځان په ګټه استفاده دغلامی له دوري نه راپیل شوه. په فیوډالي ټولنه او دهغې په نس کي بیا را زېږېدلي بورژوازي مناسبات ،دواړه انسانان زبېښی ،خو په هر اقتصادي نظام کي دهغه نظام دخصوصیاتو پر بنیاد داکار سرته رسیږي. سرمایداري ټولنه چي دنورو ټولنیزو نظامونو په پرتله پرمخ تللي اقتصادي ،سیاسي ،اجتماعي او فرهنګی جوړښتونه اواړېکي لري دخپل پیدا ایښت نه بیاتر اوسه دتکامل مختلف مراحل تیروی. دپانګوالی ټولنیز مناسبات دفیوډالي نظام په تناسب دولسو نواو خوارو انسانانو په مقابل کي دظلم ، استثمار ،ښکیلاک ، زبېښاک ډیر مغلق او پیچلي اصول او میتودونه له ځان سره راوړی او په مختلفو ښودبیلا بېلو میتودو او رویشونه په استفادې سره د خپل واک دساتلو لپاره تلاښ کوی. دهمدغو پېچلو اقتصادي منا

سباتو او سیاسی مناسباتو پر اساس پانگوال د کارگرانو او مزدورانو له استعداد او انرژۍ نه په ظالمانه او غیر عادلانه بڼه استفاده کوي تر څو زیاته سرمایې پلاس راوړي.

د ۱۹ پېړۍ په لومړیو کې د سرمایدارانو بې عدالتۍ، استثمار او د کارناوړه شرایطو کارگران او کارمندان مجبور کړه چې د فابریکو د خاوندانو پر خلاف د اعتراض ږغونه پورته کړي هغه وخت د کارگرانو سره ډیر ظالمانه او له انساني کرامت نه لیري برخورد کیده ،یعنې ډیر او ستونځمن کار په مقابل کې لږ معاش ورکول کیده ، د کار شرایط او د کارچاپیریال یې دومره نا مناسب و چې ډیري لږې مودې کار کولو نه وروسته کارگرانو د کار توانايي دلاسه ورکوله .

ښځې چې د بشري ټولني دوگړوتر نیمایي زیات جوړوی د بشر په تاریخ کې یې تر نارینه و زیات د ظلم او تیري د روند بارپراوږو اخیستی دی. هغوي تل د کارفرما د ناوړه او غیر انساني سلوک او شخصي حوسونو سره لاس په گریوان وې ،هغوي ته له یوې خوا تر نارینه وو لږ معاش ورکول کېده او د بلې خوا یې د کار شرایط او چاپیریال د دوي لپاره زورونکی او د تحمل وړ نه وه.

له نن څخه ۱۵۱ کاله پخوا په ۱۸۵۷ ز کال د مارچ د میاشتي په اتمه نیټه د نیو یارک د ښار د اوبدلو د فابریکو ښځینه کارگرانو د کار د شرایطو د ښه کېدو ،د کار د وخت د کمښت او معاش د زیاتوالي په خاطر د یو سترلاریون په طرځ کي د امریکا د متحده ایالاتو د نیویارک ښار واټنو ته راووتلې ، او د فابریکو د خاوندانو پر خلاف یې د خپل انساني حق غوښتلو د اعتراض ږغ پورته کړ؛ د دوي دا گوت نیونه او حق غوښتنه د پانگوالو لپاره د خطر زنگ او د احرکت یې د دموکراسي او آزادی ترلاسه کېدو پیل وباله ، ځکه خو د دغه انساني حرکت د خفه کیدو لپاره لاس پکار شول او پر بې دفاع ښځینه کارگرانو یې مرگوني گزارونه وکړه. د فابریکو د خاوندانو او حاکمانو د غه ظالمانه او غیر انساني کړنو د کارگرانو او تر ظلم لاندي خلکو غوڅه نوره هم راوپارول او د کار گرانو په زړونو کې د پانگوالو سره د نفرت د اور لمبې نوري هم شعلوری شوې.

د دې تاریخي او نه هیریدونکی ورځي د ترخې خاطرې په یاد په (( ۱۹۰۸ ,۱۹۰۷ او ۱۹۰۹ )) زکلو کښې په نیویارک او د نړۍ په یو شمیر نورو هیوادو کې تر ظلم او ستم لاندي خلکو لخوا یاد غونډې جوړې شو ې ،پدې غونډو او لاریونو کې هم تر هر چا د ښځینه کارگرانو ونډه زیاته وه .

په نړۍ کې سیاسي سازمانو او اجتماعی عدالت پلوه ټولنو د پرله پسې تلاښونو او مبارزو په پایله کښې د یو شمیر هیوادو غیرتي ښځې پردې بریالۍ سوې چې پانگوال د زمان غوښتونو ،عدالت او انصاف ته سر ټیټ کړي. په ۱۹۱۰ زکال د ډنمارک پلازمېنې د کوپنهاگن په ښارکې د نړۍ د سوسیا لیستو ښځو دوه هم نړیوال کنفرانس د ((۱۷» هیوادو نه دراغلو (( ۱۰۰ )) تنو ښځینه نماینده گانو په گډون جوړ سو ، دهمدې نړیوال کنفرانس په وروستۍ ورځ د المان پیژندل شوې سیاسي څیرې اغلي "کلارا زیتکین " لخوا د غونډې برخه والو ته وړاندیز وشو چې د ۱۸۵۷ زکال د نیویارک د ښار د نساجي د فابریکو د ښځینه کارگرانو د تاریخي غونډې او له هغوي سره د وخت د حاکمانو د وحشیانه چلند د قربانیانو د خاطرې د یاد ژوندی ساتلو په خاطر دي دا ورځ (د مارچ اتمه ) د ښځو د نړۍ وال پیوستون دورځې په نامه ونومول شي او پدې ورځ دي د نړۍ د ښځو سره د ملا تړاو د هغوي د انساني او طبعي حقوقو د دفاع په خاطر غونډې او کنفرانسونه جوړې شي. له هغې ورځی نه چې پدغه نړیوال کنفرانس کې د اغلي ((کلارا زیتکین )) د اوړاندیز ومنل سو د انږدې ((۱۰۰ )) کاله کیږي چې د نړۍ په مختلفو هیوادو کښې د دې تاریخي او نه هېرېدونکۍ ویاړلي ورځی لمانځنه کیږي.

په ۱۹۱۱ زکال د لمړي ځل لپاره د مارچ په اتمه په المان، اطریش،سویس او ډنمارک کې د ښځو د نړۍ وال پیوستون په نامه غونډې جوړې او لاریونونه وشول. پدغو غونډو کښې ښځو په انتخاباتو کې د رایې ورکولو ،کار ،ښوني ،تحصیل او مسلک د انتخاب حق تر لاسه کېدو او د هیوادو په قوانینو کې د ښځو د مسلمو او طبعي حقوقو د دفاع او دموکراسۍ د پلي کیدو په گټه د تغیراتو د راوستو، په سیاسي ، اقتصادي ، فرهنگي او ټولنیزو چارو کښې د نارینه و سره د برابر حق غوښتني ا وړاندیزونه مطرح سول.

په (۱۹۱۵ ، ۱۹۱۲) کلنوکي ،هغه وخت چې لا د لمړۍ نړۍ والي جگړې د اور لوگي پورته کیدل د نړۍ په گوټ گوټ کي ((ښځې د جگړې مخالفي دي )) تر شعار لاندي د مارچ داتمي ورځي په مناسبت شانداره غونډی او کنفرانسونه جوړشوه. پدې غونډو او کنفرانسوکي ښځو د جگړې د سمدستي د بندیدو ،په سوله ،دوستۍ او د هیوادونو تر منځ متقابله احترام په مناسباتو کي ژوند ته نړۍ وال راوبلل، په جگړه کښې د ښکیلو هیوادو د رهبرانو څخه ئې په کلکه د جنگ د ختم غوښتنه وکړه.

ښځو د اوږدو مبارزو ،تلاښونو او قربانیو په پایله کښې د لمړۍ ځل لپاره د نیوزیلاند په پارلماني ټاکنوکې د رایې ورکولو حق ترلاسه کړ ،دا حق د استرلیا ،فنلنډ او ناروي ښځو تر لومړۍ نړۍ والې جگړې مخکې تر لاسه کړی و . مگر د پخوانې شوروي اتحاد ښځو په ۱۹۱۷، د فدرالي المان په ۱۹۱۸،د انگلستان په ۱۹۱۹، د امریکا د متحدا ایالاتو په ۱۹۲۰،د افغانستان ښځو په ۱۹۳۴ زکال،د ایټالیا او فرانسې ښځو دا حق تر دوهمې نړۍ والي جگړې وروسته او په یمن کښې یې په ۲۰۰۳ زکال تر لاسه کړ ،مگر په سعودي عربستان کې چې د عدالت او برابرۍ خبري کوې تر ۲۰۰۵ زکال پوري حتي د ښاروا لۍ په ټاکنو کې هم ښځو ته د گډون حق ندی ورکړه شوی. جالبه او دردونکې خو لا دا چې تر اوسه په سعودي عربستان کې ښځه د موټر چلولو حق نلري، په مصر کې د همدې روان ۲۰۰۸ کال د مارچ په لومړۍ ورځ یوه ۲۳ کلنه پېغله د خلکو د نکاح د تړلو د حق په ترلاسه کېدو باندي بریالۍ سوه.

دیادولو وړخبره داده چي تر اوسه لا دنړۍ په یوزیات شمیر هیوادو کښي ښځي دولتي ارګانو او شوراګانو ته دځان لخوا داستازي دټاکلو څخه پداسي حال کښي محرومي دي چي دهغو هیوادو دنفوسو دشمیر پوره نیمایي او یا هم تر هغه زیات وګړي ښځي دي. زموږ په هیواد کښي هم کله چي په اساسي قانون کښي ښځوته په ټاکنو کښي دحق ورکولو مسأله مطرح شوه ،یو شمیر بنسټپالو اودموکراسۍ مخالفو کسانو لخوا ښځوته دنارینه وسره دبرابر حق ورکولو پر خلاف مخالفت وکړ، چي له نېکه مرغه کوم ځاي یې ونه نیوی ،د ( ۱۹۲۳ ) داساسی قانون دتصویب نه راپدې خوا ښځي کولاي سي دافغانستان پارلمان ته ځان کاندید اوبل چاته رایه ورکړی ،افغانستان په نړۍ کي یو له هغو هیوادو څخه وچي ښځي دوزارت مقام تر لاسه کړ ،دبېلګي په توګه دزوروي نظام په ټوله دوران کي ښځي ته دوزارت مقام ونه رسېد ،یوازي دپوتین دحاکمیت په ورستیو کي دو یادرښځو دا امکان تر لاسه کړ چي دوزارت اویا هغه معادل مقام کي دنده تر سره کړي . دیادولو وړده په ۱۹۹۲ کال کله چي په پاکستان او ایران کي جوړسوو تنظیمو دولتي واګی ترلاسه کړې افغانی ښځي له دي انساني اورواحق نه محرومي سوي ،له نیکه مرغه دغې توري دورې ډېر دوام ونکړ ،دطالبانو دحاکمیت په نسکورېدو سره دملګرو ملتو او نړیوالو سازمانو دغوښتنو اوفشار وپه وجه افغاني ښځوته په پارلماني ټاکنو دولتي اداراو او نورو ټولنزو سازمانو کي دګډکار حق ورکړه سو ،اود اساس قانون په "۲۲ "ماده کي واضح راغلل چي: دافغانستان داتباعو تر منځ هر راز تبعیض او امتیازمنع دی.دافغانستان اتباع دقانون په وړاندي مساوي حقوق اومکلفیتونه لري،اودهمدي قانون دوویشتمي" مادې په یو جز کي راغلي: دولت دانسان دآزادۍ او کرامت په درناوي او ساتنه مکلف دی.

په نړۍ کي افغانستان لومړی هیواد دی چي دښځوځانګړی سیاسی ګوند په قانونی بڼه فعالیت پیل کړ. له بده مرغه تر اوسه دنړۍ په ګوټ ګوټ کښي ښځوته هغه حقوقو چي دبشر دحقو قو داعلامیې په ۱۸ ، ۱۹ ،او۲۷ مادو کښي څرګند بیان شوي نه دي ورکړه شوي او نه هم د ۱۹۸۴ زکال د دسامبرد ((لسمي )) دښځي توهین تحقیر او غیر انساني مجازاتو ضدکنوانسین ، دملګرو ملتو د سازمان د ۱۹۷۵،۱۹۷۹ زکال دښځو سره دهر ډول تبعیض ، تحقیراوتیري پر خلاف پریکړه لیکونو کښي درج شویو ټکوته دولتي چاروا کو پاملرنه نده کړې. اونه هم ښځو ته بیله هر ډول تبعیض نه دټولني په اقتصادي ،اجتماعي،سیاسي او فرهنګی ژوند کي دفعال ګډون امکانات برابري شویدي. که رښتیاوویل شي دنړۍ په اکثریت هیوادو کښي ښځو ته دحق ورکولو څخه عجیب او غریب تعبیرونه کیږي. ایا دا ظالمانه نده چي نارینه اوښځو دواړو ته دانسان خطاب کیږي ،په قوانینو کښي یو شان مسؤلیت اومکلفیت لري ،مګر کله چي دصلاحیت ،برابرۍ اوحقوقو خبره راشي بیا ښځو ته ددومې درجې انسان مقام ورکول کیږي ؟

اویا په ډېرو وختو کي دبرابری ګناه په مقابل کي ښځی ته تر نارینه لویه جزا ورکول کیږي؟.

دنړۍ دعلمي او تخنیکي پر مختګ سره یوځاي تر اوسه ښځو ته دا شرایط ندي برابر شوی اوهغو ي ته دا حق او آزادي چانده ورکړې چي دهغو په رڼاکي وکولاي شي ښځی له دغه زړه بوږنونکو شرایطو ، اجتماعي ناخوالو ا وبې عدالتۍ نه نجات ومومی. دتاسف وړ خبره ده چي دښځوپه مقابل کي دهرډول تبعیض سره دمخالفت کنوانسیون چي په ۱۹۷۹ کي تصوب شو تر اوسه دنړۍ (( ۱۷۹ ))هیوادو چي دملګرو ملتو د سازمان غړیتوب هم لري ندی لاسلیک کړی ، اویوازي د ۹۸ هیوادولخوا لاسلیک شوی دی.

په ۲۰۰۵ کال دنومبر په ۲۸ نیټه دلومړی ځل لپاره ایراني ښځو سپورتي لوبغاړي ته چي هلته نارینه هم ناست وه هغه وخت اجازه پیداکړه چي دتهران دښار دآرارت په سپورتی لوبغاړې کښي دایدزدناروغی سره دمبارزي پرضد تبلیغ لپاره دفټبال دبازیو سیالي جوړه شوې وه . په ایران کښي ښځي دخپل انساني حق او آزادیو دترلاسه کیدو په خاطر هره ورځ قرباني ورکوي،اودولتي چاروا کولخوا په ډېر بې رحمانه ډول په زندانو کي شکینجه کیږي. ایرانی اخوندان نوروته دعدالت او انصاف تبلیغ کوی خو خپله ئې دالوي او ارت ایران دبې دفاع هغو ایرانیانو او په ځانګړې توګه ښځوباندي چي دټولنیزو ازادیو طرفداروي په یوه تنګ ،تور او تاریک زندان بدل سوی دی. هلته څوک داعتراض رږغ نسی پورته کولاي ،دعدالت ځاي د اخوندانو بې بنسټه اودټولنیزعدالت نه لیری فتواګانو نیولی دی. دبشردحقو قو ددفاع دسازمان زیاتي بي ګناه ښی په اخوندي زندانوکي دوحشت اوهر ډول تیریو لاندی شپې سباه کوی. د۲۰۰۷ کال دمارچ په ۴ نیټه دبشر دحقوقو دمدافع سازمان ۳۸ نه تر ۵۰ تنو ښځو دایران دستري محکمې مخته دښځودحقه حقوقو ددفاع په خاطر سوله ایزه مظاهره کول چي دایراني اخوندانو دا دعدالت دفرشتو لخوا دایران داساسي قانون د (( ۲۷ ))مادې خلاف زنداني شوې. له دغو زند ا نیانو سره دامنیتي چاروا کو لخوا ناوړه سلوک ښځې وهڅولې چي دتهران دښار واټونوته راووزی اودزنداني شویو ښځو سره دانساني سلوک اودهغوي دبې قید او شرط خلاصون غوښتنه وکړي. اخبار روز ،۵ مارچ ۲۰۰۷

له بد مرغه دتاریخ په اوږدو کي دښځو پر انسانی اوروا حقوقو په مختلفو بڼو اوبهانو تیری سوی ،په ځینو هیوادو کي ښځه له میراث نه محرومه شوې او په ځینو کي بیا دوهمه یا دریمه برخه ورکول کیږي . په ډېرو هیوادو کي د مذهبي او دودیزو منا سباتو پر اساس دښځي ژوند په میړه پوري داسي تړل سوی دی کله چي میړه یې مړ شي ددغه دودیزمکلفیت په منلو سره چي باید ښځۀ ترمرګه په همدغه کورکي ناسته اوسی ،که ئې زړه غواړي یانه مجبوره اومکلفه ده دمیړه ورور او یا دهغه بل کوم نږدې خپل که هغه ماشوم هم وي اویا سپینږرۍ میړه کړی . دښځي نظر نه تنها داچي دهغې دسرنویشت په ټاکلو کې نه غوښتل کیږي همدا ډول دانتخاب حق هم نه ورکول کیږي ، دښځو سره دغلام په څیر برخورد دنړۍ په زیات شمیر هیوادو کي دودیزه بڼه اخیستې ده. له بدمرغه یو شمیر دغو ظلمونو اوناروا کاروته اسلامی بڼه ورکوی اودځان لپاره روایتونه تراشي ،پداسي حال کي چي داکار پخپله له اسلام او اسلامیت سره

خیانت اوجفاده ،ځکه د اسلام مقدس دین په هرڅه کي تعدل ته ښه ویلی ،نارینه او ښځه پسله هغه چې نکاح وکړی یو بل ته یو شان مسولیتونه لري خو اوس چې یې گورو نارنه خپل ځانته له ځانه د اسلام په نامه تر ښځه ډیر حق غوښتونکی او اخیستونکی دی ،دبلگې په توگه که یو أیات شرف اویا حدیث دښځې لخوا نارینه (مېړه) ته د درناوی په خاطر ویل سوی اویا نازل سوی دی نو هرو مرو بل د نارینه لخوا دښځې مقام او حیثیت ته د درناوی په خاطر سته.دا یو شمر کسان دي چې دخپلو شخصی گټو او خواهشاتو لپاره یې اسلام دنړیوالو په ذهنیتونو کي ((ببو)) یعني بلا معرفی کړی ،کنه داسي نده ،د اسلام مقدس دین یوله هغو ادیانو څخه دی چې هلته انصاف او عدالت ته پکښی زیاته پاملرنه سوې ده. که خپله یو شمیرپر اسلام سیاسي سوداگر دخپلو سیاسي موخو لپاره دنورو ادیانو پیروانو ته د اسلام مقدس دین غلط معرفی نکړی هغوي به هیڅوخت د اسلام په هکله غلط نظر پیدا نکړي ،ځکه د دې دلایل نسی پیدا کولاي ،که اسلام دوحشت او ظلمت دین وای بیانو ولي دومره ژر هر چیر خپور سو ،اسلام دعدالت ،انصاف او هر بل انسان ته د درناوي کولو دین دی .

په اقتصادي اړیکو کې ښځه دنړی په زیاتو هیوادو کې دنارینه سره یو شان کارکوي مگر د سرمایداري ټولنې د اقتصادي غیر عادلانه روابطو پر اساس ښځو ته ترنارینه و کمه او یا کله کله دنارینه و دتنخوا نیمایې ورکول کیږي ،دبېلگې په توگه سویډن چې یوله دموکراتیکو هیوادونه شمیرل کیږي اودولتي چارواکي دا ادعاکوی چې تر هر چا ښځوته زیاته پاملرنه سته خوبیا هم دښو تنخوا تر نارینه لږ ده اودلته هم هره ورځ دښځو سره زور زیاتی کیږي. دداډول چلند اوظلم مثالونه په اسیا افریقا ،لاتینه امریکا شرقی او غربی اروپا اودامریکا په متحده ایالاتو کي بې شماره دي.

اساسي خبردا ده چې په نړۍ کښي همدا اوس هم تر هر چا زیات دښځو سره دژوند په ټولو اړخونو کښي زور زیاتی کیږي ،ښځی نه یوازې دا چې تر اقتصادي استثمار لاندي دي ،متاسفانه په زیاتو هیوادو کښي دنارینه دښه دوخت تېرېدنی دیوې وسیلې په توگه په بازارونو کي پلورلو ته وړاندي کیږي.متاسفانه دښځوزیات شمیر دژوند داسي اقتصادي شرایط لري چې مجبورېدي ځانونه او خپل عزت د جنسي پېرېدلو په بازارونو کې خرڅلاو ته وړاندې کړي. زما په نظر تر اوسه لا دبشریت نارینه اړخ پدې ندې توانیدلی او یا نه غواړي دې حق ته غاړه کښېږدي چې ښځه له دغو بدمرغیو او بې عزتیو څخه وژغورل شي. دیادولو وړده چې په سویډن کې داسي ځاي چې هلته نارینه د پیسو په مقابل کې دجنسی غریضې درفع لپاره دښځونه استفاده وکړی تراوسه لادنیکه مرغه نسته اودا عمل غیر قانوني دی ، مگر په پر مختللې امریکا ، اروپایي نړی جاپان ،یوشمیر اسیایي هیوادو او استرالیاکې ډیري پیغلي او ښځی داقتصادي ستونزو او مجبوریتونو په خاطر دې ته اړی سوی دي چې ځانونه وپلوری. البته دې ټکی ته هم باید پاملرنه وسی چې داکار ددموکراسی سره هیڅ تړاونلری ،بلکه دا په اجتماعی نظام کي داقتصادي نا انډولی اودتولیداتو دغیرعادلانه ویش پایله ده چې یو شمیر انسانان دخپل ژوند دبقالپاره له خپل عزت نه تیریږي. په شاته پاته هیوادو کې له ښځونه د ناروا استفادې نوری بڼې هم شته ،او په بنورو ډولونو دهغوي پر عفت اوشرافت تیر کیږي.یوڅه د دویلووړ دی هغه دا چې ددغو ټولو بې شمیره ناروا ظلمونو او تیریو په مقابل کې ټول اویا غوڅ اکثرت چوپ او دحوادثو نندارچیان دی .

دښځو سره دهمدې ناوړه چلند پایلې دي چې دنړیوال روغتیا یې سازمان داحصایې له مخې هر کال په جهان کښې تر ((۴۰۰۰۰)) زرو زیاتي ښځی خپل خوږ ژوندلاسه ورکوې ،په سودان ،سومالیا اوڅونورو ځایو کې پېغلی په زورسونتېږی ، اویا په هر ثانیه کښې یوه ښځه په ډول ډولونو په کورنی یا ټولنه کښي له زورزیاتی سره مخامخ ده .

دلاتیني امریکا په بعضو هیوادو کي امیدواري ښځې ته کارنه ورکوي اوکارته د استخدامولو په وخت کي ښځه باید ځانگړې معاینه تر سره کړي تر څو معلومه شي چې امیدواره نده ،امید واري ښځې ته چې دلوړې مرې څوک کار نه ورکوي. همدلته دیاد ولو وړ بولم په اروپا کي چې شپه اوورځ دښځو او ماشوم دحق ددفاع ناري سورې وهل کیږي دفابریکو اونورو اقتصادي مؤسسو خاوندان هم ډیرکوښښ کوي په یوه اوبله بهانه هغه ښځو ته چې امیدواره وې او یاکوچنی ماشومان ولري دکارورکولو څخه ډډه وکړې، حتا په دولتي اداروکي هم دکارگرو اوکارمندانو داستخدام په لمړنیو پوښتنو کي دماشوم ددرلودلو سوال حتمي دی.

دهمدې اقتصادي ستونزو له امله دنړی په زیات شمیر هیوادو کې ښځې، ځواني پیغلې ځان خرڅوني ته مجبوریږي ، په نړی کي دفحشاو ډیر والی دښځو د عیاشی بیلگه نه بلکي ددوي دژوند دناوړو اقتصادي شرایطو ،دټولنیزو ظالمانه او غیر عادلانه اړیکو او مناسباتو اودژوند نیواړتیاو دترلاسه کولو مجبوریتونو روښانه بېلگه ده. هر کال د اسیایې هیوادو ،پخواني شوري جمهوریتونو ،روسي، بلغاریا ،رومانیا ،البانیا ، ترکیې ،چک ، سلواک،چین ،کمودیا ،ایران ،ویتنام تایوان اونورو دهیوادونه تر دوو میلیونو زیاتي انجوني له ۱۱۲ کلنی تر ۲۷ کلنو پوري د اروپا ،امریکا ،تایلند ،هنکانگ،جاپان ،هند او عربي هیوادو دجنسي گټې اخیستني بازارو (فاحیشه خانو ) ته وړاندې کیږي ،هرکال په امریکاکښي په سلهاو زره انجوني دجنسي تجاوزاو تیرې قربانیاني وي ،داکارپه اروپاکي هم رواج لري ، همدا علت دی چې په نړی کې د ایډز ناروغی پراختیا موندلې ده ، له بده مرغه په نړی کې داسي هیواد نه پیداکیږي چې هلته دي ددغه مرگونې مرض په ښخر بېلگې نه وي ، دکورنیو جگړواو مهاجرتونوله امله په افغانستان کې چې هیڅا فکر نه کاوه د ایډز په مرض اخته تر((۲۵۰))زیات کسان ثبت اوراجسترشوی دي،زموږ لپاره دا ځکه لویه غمیزه ده چې دعقیدې او افغاني دود له مخې پدي مرض اخته کسان نه غواړي ډاکتر ته ورشي او بله لادا چې موږ خومتاسفانه

شفاخانه او ډاکټر هم نلرو ،مریض به چا ته مراجعه وکړي ؟ او زموږ دا نالوستئ ولس به ددي غم لړۍ ناروغی دمبتلا کېدو په علایمو څنگه پوه شي؟

دهمدې اقتصادي ستونزو پایله ده چي د بیوزلو غریبو او ترجنسي تیریولاندي ښځو په منځ کي هره ورځ دایدز ناروغی مخ پر زیاتیدو ده. همدا اوس د جنوبي افریقا په سلو کې ((۳۵)) په سودان ،سومالیا او نورو افریقایي هیوادو کي سره لدې چي په ځینو کي يې بیچاره ښځي په زور سونتوی خو بیا هم ددي وژو نکي ناروغی کچه ډیره لوړه ده، په کنیاکي تر دوه نیم میلیونه زیاتي ښځې اوماشومان پدي مرض اخته دي. دنړۍ په یو شمیر هیوادوکي کورنیوجګړو دا امکانات زیات کړي چي دوسله والو کسانو لخوا پر ښځو په انفرادي او ډله ایزه توګه تیری وشې په سیرالیون، چچنیا ،کانګو ،پخوانی یوګوسلاویا ، رواندا ،کامپو چیا ،عراق ، سومالیاو نورو هیوادو کې دجګړو په جریان کې په زرهاو ښځي بي پته شوي او پر هغوي جنسي تیری شوی دی ،زموږهیوادهم له دې بلانه په امان کې ندی پاته .

په نړۍ کښې دښځو او میندو دژوند داقتصادي ناوړه شرایطوپر بنیاد چي یوې مورته داومیدواری په وخت کي حد اقل لازم خواړه نه رسېږي هر کال تر ۳،۳ میلیونه زیات ماشومان مړه دنیاته راځي ،همدا شان تر اوسه هر کال((۴)) میلیونه ماشومان د۲۸ ورځو ژوندکولو نه وروسته او تر (( ۲،۲ )) میلیونه زیات تر پنځوکلونو وروسته ژوند دلاسه ورکوي. هر کال دماشوم د ولادت په وخت کښې تر (( ۵۲۹۰۰۰ ))زیاتي میندي خپل خوږ ژوند دلاسه ورکوي.

زموږ په هیوادکي دښځو سره چال چلند بیادیوشمیرزیاتونورو هیوادودښځودژوند په پرتله نور هم زړه خوږه وونکی دی ،ځکه دلته دود ، دستور او عنعنات تر بل هر هیواد زیات مسلط دي ،کله کله له مذهبي عقایدو څخه هم ناوړګټه اخیستل کیږي .له بدمرغه په افغانستان کې دشرق اوغرب تر منځ جګړه چې دامریکالخوادشوروي په مقابل کي دمذهب تر شعار لاندی پر مخ بیول کېده ،امریکا په پاکستان اودنړۍ په یوشمیر هیوادو کې دافراطی مذهبی اړخ دپراختیانه استفاده کول ،دې موخی ته د رسېدو لپاره ئې مذهبی ډلي اوګوندونه په افغانستان ،پاکستان اوایران کي روزل ،چي دادی اوس ځان نسی ځیني خلاصولاي.

دغه سیاست په نړي ،سیمه اوپه ځانګړې توګه زموږ په هیوادکې منفی اغېزې پرېښودلې.زموږ یوشمیر هیوادوال له اسلام نه دپوره خبرتیاپه نه لرلوسره خپل هر ډل ناوړه کړوته اسلامي رنګ ورکوی اوداسلام په نامه ځانته نجات ورکوی ،سره لدې چي په حقیقت کي داسي نده. زموږ ټولنه یو سنتې ټولنه ده ،زه دښځو په اړوندزموږ دټولنې دیو شمیر عنعنو او دودسره موافق یم اودهغو پلوي کوم ،مګرهغه متل دی وایي: ((هر چه ازحد ګذرد رسوا شود ))، دا به ومنو چې زموږ ټولنه دښځودمسلې او هغوي ته دحق ورکولو په اړوند ځانګړي مذهبي، تاریخي ، سنتي او عنعنوې ارزښتونه لرې چي دا ارزښتونه زموږ دژوندانه یوه برخه ګرځیدلې ده، مګر په پښتو کي یو متل دي وایي ((که شپه تیاره ده خو مړي په شمار دي)) ،هیڅوک زموږ په ټولنه کې ددې غوښتونکی ندی چي هر څه دی تر پښو لاندي شي ،کولتور او عنعنات دې هیر شې او نه هم افغاني ښځې دا غواړې ،ولې همدا اوس دښځو دحقوقو او آزادۍ دمسلې سره بر خورد کاملا له انصاف نه لیري دی ، په سلهاو داسي بېلګې شته چي دعنعنو او مذهب له نامه څخه په ناوړه استفادي سره په ډیره افراطي بڼه دښځی حق تر پښولاندي شوی دی ، کله کله زموږ په ټولنه کښې ځیني واکداران ، دپیسو څښتنان اوښستېپال له دود اودستور نه داسي شی جوړ کړې چې پلې کول يې د وجدان له مخي غیر عادلانه اوغیرعاقلانه برېښې دبیلګې په توګه د ((نهه» کلني انجلۍ او یا ځوانه پیغله یوه ((۸۰»کلن سړي ته په نکاح کول نوکوم انصاف دی ؟ ولي یوازي داسي ذهنیت موجود دی چي ښځه اخلاقي ضعف لري ؟که متوجه شو همدا نارینه دی چي ښځه غولوي اویادهغې له اقتصادي مجبوریتوڅخه ناوړه استفاده کوي اوهغه زنا ته هڅوی. مګر بیا دښځی جزا سنګسار اونارینه په یوڅودور وهل کیږي. ولي ښځه حق ونلري چي له ښوونځی نه بیا تر عالي تحصیلاتو تحصیل وکړي ؟ولي ښځه دا حق ونلري چي دستري محکمي ریسه ،څارنواله ،افسره ، وزیره ،صدراعظمه او بالاخره ولسمشره شي ؟همدا او س که زموږ په هیواد کي که د ښځو رول ته بیطرفانه ځیر شو دا به را ته جوته شي چي افغانې غیرتمنو ښځو د نارینه و سره د هیواد د آزادۍ د تر لاسه کولو نیولې ،په اقتصادي ،سیاسي او اجتماعي ارزښتونو اوخدمت کي تر نارینه و شاته ندې پا ته شوي.

دکوم انصاف او عدالت له مخې دمنلووړ ده چې ښځه یاپیغله په بدی کې ورکړه شي؟ ددغي ښځي څه ګناه ده ،جنایت او قتل نارینه کړی اما ښځه یې جزا وینې ؟ دا کوم عدالت او انصاف دی ؟؟ دښځوسره داډول چلند د اسلام دمقدس دین ، بشرې عاطفي، انسانیت او بشرد حقوقو داعلامې خلاف کار دی. داچي همداوس زموږپه هیواد کي تر ((۷۰۰) زیاتو خویندو او میندو دمختلفولاملو له مخی په ځان سوځونه لاس پوري کړی دا دښه برخورد اوانسانی چلند بېلګه نسوبللاي .

له بده مرغه دطالبانو دحاکمیت تر ړنګیدو وروسته یو ځل بیا دښاغلی کرزي دحاکمیت ترنامه لاندي هغه چا ته واک ورسید چي دوطن په خرابیدو تر هر چا ښه پوهیږي. ددي لپاره چي زموږ دهیواد د پوره نیمایې وګړو یعني ښځو ته دټولنې په اقتصادي ،سیاسي ،اجتماعي او فرهنګي چارو کي د فعال حضور او ونډې اخیستنې پوره امکانات برابر شوي وي لازمه برېښي په او سنیو قوانینو کي دا سي تغیرات او تعدیلات راوستل شي کوم چي دهغو په اساس د ښځوحقوق په قانوني بڼه داجتماعي ژوند په ټولو اړخونوکي خوندي وساتل شي ،تر څو د همدغو قوانینو له مخي دښځو پر طبعي حقوقو له تیرې او تجاوزڅخه دا سړې وژونکې اودبشر دحقو

قواودموکراسی حرفوې مخالفين لاس پر سر او هره ورځ دځينو چاروا کودفتوا ګانو او منځنيو پيړيود ناوړه رواجونو له منګولو نه خلاصي شي. په يو هيوادکې چي قانون وي دفتوا ګانو کومه اړتيا نشته.

همدا اوس افغاني ښځي ((۹۵ )) په سلو کې نالوستی دي ،لازمه داده چي په هيواد کي دښځو دنهضت دپر مختيا لپاره بيله کوم ډارنه غښتلي او کوټلي ګامونه اوچت شي ،زموږ دهيواد ښځې دنړيوالو بشرې سازمانو ،يونيسف ،يونسکو او ملګرو ملتوو ځانګړو پاملرنواو قانوني حمايو ته دبل هر هيواد تر ښځو زياته اړتيا لرې.

په اساسي ،مدنی او جزا قانون کې دبنيادې تغيراتو په راوستو سره بايد د ښځو خرڅول ، دکوچنيو انجونو په نکاح کول، ښځه په ميراثي ډول بي دهغي له خوښي نه تر لاسه کول ، په بدو کې دښځي او انجلۍ ورکول ، پر ښځو فردي او يا ډله ايز جنسي تيرۍ ،دښځو جسمي ، رواني ازار،سنګسار، تيرباران ،اعدام او په دورو وهل ،دبدن يو غړۍ پرېکول ، په زور او جبر ښځه دنارينه سره په ګډ ژوند مجبورول او داسي نوري کړنې چي په هغو کښې انساني کرامت تر پښو لاندي کيږي منع اعلان شي. ښځو ته دهيواد په ټولو دولتي او غير دولتي ادارو او مؤسسو کي دنارينه و سره دګډ کار حق ، په مرکز او ولاياتو کي دمور او ماشوم دحمايې په منظور ځانګړې ادارې او په ټول افغانستان کي د امکان تر سرحده وړکتونونه اوماشومانو ته دشيدو ورکولو خوني جوړ ي سي. په وزګار وخت کي دښځو په منځ کې د نالوستوب پر خلاف دمبارزي په خاطر د ليک لوست د زده کړي کورسونو ،سپورت ،لاسي کارنوو او داسي نور مختلفو فرهنګي انجمنو او ټولنو جوړول به دښځو دنهضت د پر مختيا اوهغوي ته دهيواد په دولتي او سياسي چاروکې دپراخ ګډون لپاره لاره نوره هم هواره کړی.

درسمي رپوټونو له مخې همدا اوس زموږ په هيواد کي هره ورځ د ((۲۰۰)) په شاوخوا کې ماشومان او ((۵۰)) په سلو کې ميندي دماشوم دزيږېدو په وخت کې ژوند دلاسه ورکوې. ديونيسف داعلاميې په اساس ((۹۰)) په سلو کي دماشوم زيږول دروغتيايي اصولو خلاف سرته رسيږي ،په همدې دليل په هرو سل زرو ماشومانو کي چي دنياته راځې (( ۱۹۰۰ )) ماشومان ضايع کيږې . داقتصادي او روغتيايي ناوړه شرايطو په اساس دوينې په سروکروياتو کي داوسپني دنشته والې او وينې دلږوالې له امله (( ۷۰ )) په سلو کښې اميدوارې ښځې ددتبرکلوز په ناروغۍ اخته کيږې. په افغانستان کي دميندو مرګ او مير په ډير بد حالت کي قرار لرې ، په هرو (( ۳۰ )) دقيقو کي دولادت په وخت کي يوه مور ژوند دلاسه ورکوې . دافغانستان دروغتيا وزير په وينا هره ورځ له (( ۵۰ )) نه تر (( ۷۰ )) ښځې او تر (( ۷۰۰ )) زيات ماشومان چي عمر يي تر پنځو کلو کم دی، دمختلفو ناروغيو دهغي جملي نه دتبرکلوز او ملاريا په ناروغۍ اخته کيدو سره ژوند دلاسه ورکوي.

روغتيا يي نړيوال سازمان په نړې کي دښځو په مقابل کې دزورزياتي او تاوتريخوالي په هکله ليکې: په هره ثانيه کې يوه ښځه دنارينه لخوا تهديد يږي ،چې پدې اساس په يو ساعت کې (( ۳۶۰۰ )) ښځې په (( ۲۴ )) ساعتو کې (( ۲۸۴۰۰ )) ښځې په يوه مياشت کې (( ۲۵۹۲۰۰۰ )) او په يوه کال کې (( ۹۴۶۰۸۰۰۰ )) ښځې دنارينه و تر قهر اوظلمونو لاندي ژوند کوې. افغانه ښځه پدغه احصائيه کښې غوښن ځاي لري. داچې څومره ميندي دځان او خپل ماشوم لپاره خواړه ،کالي او درمل نلرې، داچې څومره ښځې هره ورځ په مختلفو بهانواو دلايلو په توروديوالو کې په سرو اوښکو ناست دي شمير ئي هيچاته ندی معلوم ،داچې هره ورځ دهغې مېړه (دوهمه ،يادريمه مادينه) په کور ورننه باسي ،اويا په عربي هيوادوکي شيخان شپې له خپلو معشوقوسره يره په شمير پوهېدو يې دسالم وجدان خاوند انسان ليونۍ کيږې.

همدا اوس چي دنړې ۳۷ هيوادونه دافغان ولس په غميزه کي راښکيل پاته دي او په افغانستان کي دسياسي حضور په څنګ کښې پوځی ځواکونه لري ،هغوي تل دا وايي چي دوي به په افغانستان کي دښځو له حقه حقوقونه دفاع او ملاتړ کوي ،خو اوس دښځو سره دواکدارو دميل اوخوښی پر اساس چال چلند په هيوادکي قانونې بڼه اختيار کړېده ،ښځه په افغاني ټولنه کي له هرڅه نه محروم انسان شميرل کيږي ،د همدې ظالمانه او غير عادلانه کړنو ،جنسي تيريو او اقتصادي ستونځو قرباني ده.

دښځودنړيوال پيوستون جشن سږکال هم پداسي شرايطو کي لمانځل کيږي چي لاتر اوسه دښځوپه مقابل کښې تبعيض اوددوي دحقوقو خلاف قوانين دنړی په زيات شمير هيوادوکښي پلي کيږي ،دښځو انساني کرامت اوټولنيز حقوقو ته هيڅ ډول پاملرنه نه کيږی. زموږ غيرتی ښځی له يوې خوا دټولنيزو بې عدالتيو او اقتصادي ښکېلاک سره په مقامت کي لاس او پښې وهی اودبلې خوايې دطالبانو پر خلاف جګړې دپردو غونډاري او طالبانو غير اسلامي ځان وژنې هره ورځ دکورپر غولی دغم لمڅۍ غووي.

ويارې په هغو پاک لمنو افغانو ښځو او پيغلوچې دخپل ژوند په قيمت يې دخپل رواحق دترلاسه کولو لپاره دټولو اقتصادي او اجتماعی ستونزو سره په مبارزه کي ترخپل خواړه ژوند تيري سوی دي . ۲۰۰۸ دمارچ ۲ مه